مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۳/۰۱/۲۹

# د خلکو اراده او مشروع واک

بودا په ځنګله کې رياضت کاوه، چې د پاچا بيمبيسارا کاروان يې ترڅنګ تېر شو. پاچا، چې د بودا له ځيلي خبر و، راوګرځېد او ورته ويې ويل: خبر شوی وم، چې شهزاده سيدهارتها (د بودا اصلي نوم) اوس د ملنګانو په شان په ځنګلونو کې مراقبه وي، نن مې رينتيا وليدل، چې نهر او ورى په ځنګله کې ناست يې، څه شي دغي ولږې ته اړ کړې؟

بودا ورته وويل :

هغه څه چې ته يې پاچا کړی يې !

بيمبيسارا په غرور ورته وويل:

زه خدای پاچا کړی يم، چې وږيو او بېوزلو ته ډوډی ورکړم.

بودا موسک شو او ځواب يې ورکړ:

هغه خدای چې تا ته پاچايي درکولای شي، دا ورته ډېره اسانه ده، چې وږي ماړه کړي يا ورته د ډوډۍ بودولو اوزار ورکړي او ستا د خيرات پر ځای يې په ډېر عزت په خپل زيار ماړه وساتي. (***)

هغه وګړي، ګوندونه يا ډلې، چې خلکو په شعوري اراده او مخامخ رايه ټاکلي نه وي، څنګه واک ته رسيږي؟

څوک يې واک ته رسوي؟

[دلته لوستل پرېږدئ! تر دې مخکې چې وړاندې ولاړ شئ، اول هڅه وکړئ، پخپله ځواب ومومئ. ښايي، خپل موندلی ځواب مو روسته درسره مرسته وکړي.]

د خلکو له رښو او مخامخ رايو پرته د واکمونډني سرچينې کومې دي؟

بهرنيان؟

زور، ټوپک، پانګه؟

که (زور، ټوپک او پانګه) نو دا څوک ورکوي؟

هو! خبره همدلته ده .

په اوسنی سياسي فيلوسوفي کې دا په يوه علمي فورمول اوښتی حقيقت دی، چې د خلکو د سياسي شعوري ارادې پر بنسټ له مخامخ رايې پرته واک ته رسېدل، څکه هېڅراز مشروعيت نه لري، چې د واک سرچينه نامشروع يا لږ ترلږه شکمنه ده .

ولسواکي انتخاب، ذوقي ټاکنه يا شوق نه، بلکې د مشروعيت موندني لپاره يو وچ و ځېږ جبر دی .

او که څوک درته وايي، چې موږ خدای واک ته رسولي يو، نو د بودا خبره مه هېروئ .

خدای هيڅکله د دې لپاره يو ملت له ولږې، وزګاری، محروميت او مشقت سره نه مخامخ کوي، چې کوم ښاغلی يا ډله پرې واک وچلوي.

د زر و زور و ټوپک استبداد هرو مرو پرديو واک ته رسولی وي.

مشروع واک د خلکو له مخامخ، رښو او ارادي هوکړې پرته بله هيڅ لاره نه لري.

په يويشتمه پېړۍ کې به ليوني، ويده يا افيون ځپلي بنيادمان واک ته د رسېدو کومه بله مشروع لاره پېژني.

هوښياران يې موندلای نه شي.

---------------------------

[***] د ماګادهانو پاچا بيمبيسارا (۵۴۳- ۴۹۱ مخزيږدی) روسته د بودا ملګری او ملاتړی شو.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولئ